# Life and literary contribution of Mian Karim Dad

د میا کریم داد ژونداو ادبي خدمات

Dr. Muhammad Ali Dinakhel [1] Dr. Syed Zafar Ullah Bakhshali [2]

*Abstract*

*Mian Karim Dad is the elder son of Akhund Darweza, a renowned Pashto writer and religious scholar. He born in 1557 A.D in Salarzai (Buner). He was martyered by the non-Muslims in Swat and hence called Shaheed Baba (martyer). Apart from his personal literary works, his important literary service is the compilation, editing and preservation of the literary and historical works of his father. He was the follower of the Cheshtiya order of Sufism. He had many disciples and followers in this sufi order. Apart from many others, popular Pashto poet, Rahman Baba was also his follower and disciple in the order of Sufism. For getting education, he went to Delhi, Ajmir Sharif and Agra (in Hindustan). He was a prolific writer but unfortunately many of his works have been lost. Samples of his poetry is available in the appendices of his father's book, Makhzan-ul-Islam. In this article his life and literary works have been described in detail.*

*Key Words: Mian Karim Dad, Swat, Pashto, Literature, Prose, Poetry.*

[1] Lecturer/Research Associate Area study Centre (Russia, China & Central Asia) University of Peshawar, Pakistan

[2] Assistant Professor Department of Pashto Abdul Wali Khan University Mardan

میا کریم داد د اخون درویزه مشر زوے وۀ ـ میا کریم داد د تاریخ او ادب په کتابونو کښې په مختلفو نومونو یاد شوے دے لکه اخون کریم داد، کریم داد شهید ، عبدالکریم او شهید بابا ـ[i] خلاصة البحر نومې کتاب کښې ورته "محقق افغان" هم وئېلے شوي دي ـ[ii] کریم داد د بونېر په علاقه سلارزي کښې پېدا شوے وۀ ـ[iii] د دۀ د پېدائش نېټه 965 هـ بمطابق 1557 عیسوي ښودلې شوې ده ـ[iv] خو بیا هم د تاریخ او ادبیاتو پوهان د دۀ د زېږون د نېټې په باره کښې یوه خولهٔ نهٔ دي لکه رحیم شاه رحیم په خپل کتاب "غټه خزانه" کښې د دۀ د پېدائش نېټه 970 هـ بمطابق 1562 عیسوي لیکلې ده ـ[v] کریم داد د لسو کالو په عمر کښې د پیر بابا په مدرسه عالیه پاچا کلي کښې د دین زدکړې شروع کړې ـ په ماشوموالي کښې ورته پیر بابا دعا اوکړه او د علم منزلونه یې ډېر په تېزۍ سره سر کړل ـ چې کله هلکوالي ته اورسېدهٔ نو د نور علم د پاره هندوستان ته لاړهٔ ـ په هندوستان کښې دے په دهلي، اجمېر شریف او اګره کښې پاتې شهٔ ـ[vi] په خپل یو غزل کښې د هندوستان د سفر حال داسې بیا نوي ـ

دا دنیا ده د هندوانو در یې پرېږده
چې هندوان یې تېره کا په تماشه کښې
زیات د هند خلق چار پائے دے [که] پوهېږې
لهٔ چارپایه مهٔ ګډېږه په شماره کښې
کریمداد چې دا بیان کړ
لهٔ چارپایو سره بند وهٔ په اګره کښې[vii]

کله چې دے په هندوستان کښې وهٔ نو د یو بزرګ په وېنا دهٔ د خپل پلار مرشد کامل، پیربابا ته ځان راورسولو او د هغه په لاس یې بیعت اوکړهٔ ـ او د هغه په خاصو مریدانو کښې شمار شهٔ ـ د پیر بابا به د نورو مریدانو په نسبت دهٔ طرف ته د لطف و کرم نظر زیات وهٔ ـ میا کریم داد هم په خپلو شعرونو کښې ځائے په ځائے د پیر بابا ستائېنه کړې ده ـ په یو ځائے کښې ورته د عقیدت پېرزوني داسې وړاندې کوي ـ

دا ګفتار د غوّاصانو
شیخ علي غوندې غوّاص د تا بائده دے
دے غوّاص صاحب د در دے
سر بازل هنر د دهٔ دے
کریم داد چې څه وئیلې
رحم شوے د خپل پلار مدام په دهٔ دے[viii]

رحیم شاه رحیم دا شعرونه داسې لیکلي دي ـ

دے غوّاص صاحب د در دے
سر بازل هنر د دهٔ دے
د کریم په لبو باندې
جام شیرین کوثر د دهٔ دے
کریم داد چې څهٔ وئیلې
د شفقت نظر د دهٔ دے[ix]

په بل ځائے کښې خپل پیر سېد علي ترمذي ته د عقیدت پېرزوني داسې وړاندې کوي ـ

مدعي که باور نه کړې ملامت دے
چې حدیث د پاک رسول زما برهان دے
چې زهٔ الله په وحدت یو وو

ولي وس مې د صورت حجاب تر میان دے
اوس انسان لره بائده دي
هر انسان چې څه انسان دے
کلي سر د خپل الله کا
که تحقیق د حق جریان دے
اوس دا هومره خو دي زده کا
چې بې سره صورت وران دے
که پر سر ورپوهېږي اے عارفه
دا صورت دے هم په دا ولي ودان دے
هر سالک چې په دا هسې سر عارف شۀ
ځان يي تن شۀ تن يي ځان دے
په دا سر کښې يوه ګرانه دقيقه ده
ولي شيخ سيد علي پکښې چلان دے
که په دا دقيقه پوئ يې لرې مه څه
شريعت او طريقت عين عرفان دے[x]

کريم داد د خپل پلار او د پير بابا دواړو ذکر داسي کوي لکه د دواړو نه يي چې د سلوک مرستي اخستي وي ۔ شائد چې لاس نيوه ئې د خپل پلار نه کړي وي او پير بابا د هغه په واسطه خپل پير ګڼي ۔[xi]ميا کريم داد د چشتيه سلسلي پيروکار وۀ لکه چې پخپله وائي ۔

کريم داد به څه پرواه کا
چې دائم ئې د چشتيانو بدرګه ده[xii]

د هغه په مريدانو کښې خاص طور د هغه خپل دوه زامن ميا دولت او ميا نور محمد، دوه ورېرونه ميا عبدالسّلام او ميا عبدالحليم، د پير بابا درې نمسي ميا عبدالوهاب، ميا قاسم،او ميا حسن خپل يو خورائے ميا الله داد چشتي، او ميا قاسم پاپين خېل او د پښتو لوئے شاعر رحمان بابا د ذکر وړ دي ۔[xiii]اخون کريم داد چې کله د هندستان نه راغے او د پير بابا مريدي او شاګردي ئې شروع کړه نو د هغه ورسره هم ډېره مينه پيدا شوه او خپله کشره لور بي بي شاهان ئې هم ورته په نکاح کړه ۔[xiv] څوک وائي چې د ده د بي بي نوم بي بي عائشه وۀ ۔[xv] د ميا کريم داد دوه زامن وو ۔ د مشر زوي نوم ئې ميا دولت او د کشر نوم ميا نور محمد وۀ ۔ دا دواړه ډېر عالمان، فاضلان او سالکان وو ۔ د دې دواړو ورونو قبرونه د سوات د اسلام پور کلي په مقبره کښې دي ۔[xvi] د ميا کريم داد يوه لور هم وه چې د هغې نوم نورالنّساء وۀ ۔ دا د بونېر د بشونړۍ کلي په اخون محمد صديق واده وه ۔[xvii] د ميا کريم داد او د هغه د اولاد شجره داسې بيان شوي ده ۔

د اخون درویزه څلور زامن: میا کریم داد، عبدالله، پائنده محمد، میا عبدالخالق

د عبدالله دوه زامن: میا عبدالحلیم او میا عبدالسّلام

د میا کریم داد دوه زامن: میا دولت، میا نور محمد

د میا نور محمد درې زامن: غلام مصطفی محمد، نثار محمد، میا احمد

د میا دولت درې زامن: میا عبد الرّسول، میا حافظ، میا فاروق

د میا فاروق دوه زامن: زېن العابدین، ابوبکر

د ابوبکر درې زامن: میا شاه ګدا/میا شاه ایران، سپین ګیرے بابا، میا شا درغان [xviii]

میا کریم داد په فارسۍ، پښتو او عربۍ ژبو کښې لیکل کړي دي ۔ وائي چې هغه په فارسۍ او پښتو کښې ګڼ کتابونه لیکلي وو ۔ یو مستند کتاب ئې "تحفة الخانیه" او یو وړوکے کتاب ئې د "مسائل النّساء" په نوم لیکلے وۀ ۔ په دې کتاب کښې دۀ د ښځو د پاره فقهي مسائېل راجمع کړي وو ۔ په تصّوف کښې ئې "شرح جام جهان نما" په فارسۍ او "کلمات الوفیات" ئې په پښتو کښې لیکلي وو ۔ لکه چې وړاندې ذکر شوي دي چې د هغه غټه کارنامه د خپل پلار اخون درویزه د تصنیف " مخزن الاسلام" د خپلو اضافو او تصحیح سره دوباره مرتب کول دي ۔[xix] دۀ د وخت د تقاضو مطابق په مخزن الاسلام کښې د مونځ سبق، د عقائدو څه ټوټې،د یو دوو ایاتونو تفسیر، د آمنت باالله ترجمه، د جنازې مونځ، او د څه فقهي مسائلو اضافه کړې ده ۔ دا اضافي ځني د اخون درویزه په شان په نثر مسجّع کښې دي او د اخون درویزه په سبک کښې لیکلې شوي دي او ځني وړې وړې مسلسلې قطعې یا دوه بیتیزې دي ۔[xx] د کریم داد په دې اضافو کښې یوه د هغه خپله الف نامه هم ده ۔ دا یې د اخون درویزه په شان په هر حرف بېله بېله قطعه لیکلې ده ۔ او خپل صوفیانه مسلک یې پکښې بیان کړے دے ۔[xxi]د دې ټولو نه اهم د دۀ د پښتو دیوان دے چې اوس نایاب دے ۔[xxii] د فارسۍ خطونو مجموعه او د یو څو عربي کتابونو شرحې ئې موندلے شوې دي ۔ د تحفة الخاني او فقه کریم داد په نامه د کتابونو یې صرف نومونه رارسېدلي دي خو چا لیدلي نه دي ۔[xxiii] د دۀ د کلام یوه نسخه په مینګوره کښې د ده نمسي عبدالرّشید مرتّب کړې ده ۔ دې کښې د مونځ مکمله منظوم ترجمه ،الف نامه او په وړو لویو بحرونو کښې ځني نورې غزلې شاملې دي ۔

اخون کریم داد اکثر وېنا د خپل پلار په شان د "خېرالبیان" په طرز کړې ده ۔ خو د دې نه علاوه یې عروضي قسم شعرونه هم وئېلي دي ۔[xxiv] د دۀ ټوله شاعري د خدائے پاک او د رسول په مینه کښې رنګ او د معرفت یوه بېش بها خزانه ده ۔ د عشق حقیقي سوز او د معرفت ساز د هغه کلام له دومره خوږ.والے او لطف ورکړے دے چې د لوستونکي یې په بیا بیا لوستو تنده نه ماتېږي ۔[xxv] د نمونې په توګه ئې دا شعرونه پېش کولے شي ۔

نا گھا شھا یواځي نندارہ کا
چې د دې رحم پرې اوشي و هغو وته سپینکي دندان ښکارہ کا
لہ بادشاهانو سرہ ناسته پاس پر تخت دہ
لہ گدایہ سرہ گرځي درووزہ کا
لہ عابد سرہ ولاړہ پر مانځہ دہ
لۂ بنگیانو سرہ خپسر خمارہ کا
لۂ عاقلہ سرہ ناسته دہ خاموشہ
لۂ کم عقلہ سرہ گر ځي مسخرہ کا
لۂ رنځورہ سرہ ناسته دہ بېدارہ
لۂ غافلہ سرہ خوب پہ غړ غړہ کا
لۂ هندوانو سرہ ناسته پہ بازار دہ
لۂ حاجیانو سرہ یون پہ بخارہ کا[xxvi]

د دوي کورنی د نظم نہ زیات شهرت پہ نثر کښې لري ـ[xxvii] لکه چې وړاندې ذکر شوي دي کریم داد پہ نثر کښې هم کتابونہ لیکلي دي خو د بدہ مرغہ زیات پکښې ورک دي ـ

پہ 991 هـ (1583ء)کښې د پیر بابا د وفات نہ پس چې کله پہ 995 هـ (1586ء) کښې د اکبر بادشاہ لښکرې پہ سوات او بونېر راخورې شوې او تباهي یې شروع کړہ نو لکه د نورو خلقو غوندې میا کریم داد هم در پہ دېکې او د بې سروسامانی پہ حالات کښې د خپل پلار سرہ پہ کال 997 هـ (1588ء) کښې پېښور ښار تہ پہ جلا وطنۍ مجبورہ شۂ ـ[xxviii] کریم داد چې کله پېښور تہ جلا وطن شۂ نو دولس کاله یې پہ پېښور کښې تېر کړہ ـ او دولس کاله پس چې قلارہ قلارې شوہ نو بیا واپس یوسفزو تہ راغے ـ څه زمانہ یې د دیر پہ سجادي نومي کلي کښې تېرہ کړہ او بیا د سوات د نیکپي خېلو علاقې کانجو کلي تہ راغے ـ دلته ئې د درس و تدریس او علم و عرفان سلسلہ شروع کړہ ـ[xxix] ځوک دا هم وائي چې د مغلو پہ دې چپاو کښې میا کریم داد د بونېر نہ سلام پور (سوات)، هشنغر او د هغه ځائے نہ واپس بیا سوات تہ راغے ـ[xxx]پہ کانجو کښې چې کله دۂ د درس وتدریس کار شروع کړہ نو پہ گېر چاپېرہ علاقو یې هم نظر لرلو ـ هغه وخت کښې د سوات کوهستان خلق لا مسلمانان شوي نۂ وو ـ دۂ د دغه خلقو خلاف د جهاد اعلان اوکړۀ ـ او د نورو ملگرو سرہ د تیرات (مدین) پہ علاقه کښې د کفارو لښکر تہ مخامخ شۂ ـ د شپې د کفارو یو مخبّر دې پہ خپله مورچه کښې پہ مانځه ولاړ شهید کړۀ ـ پہ دې جنگ کښې د دۂ یو ورارۀ میا عبدالحلیم چې د دۂ مرید هم وۀ د دېرشو کالو پہ عمر کښې شهید شۂ ـ دا د شوال د میاشتې نهم تاریخ او د هجري سن یو زر نهه پنځوستم (1059 هـ) کال وۀ ـ[xxxi] د دۂ د وفات نېټه پہ تذکرہ علماء هند کښې 1072 هـ (1661ء) لیکلي شوې دہ ـ[xxxii] سېد تقویم الحق کاکا خېل هم د دۂ د وفات نېټه 1072 هـ لیکلي دہ ـ[xxxiii] پہ یو بل ځائے کښې رحیم شاہ رحیم د دہ د وفات تاریخ 1072 هـ لیکلے دے ـ[xxxiv] چونکې پہ تیرات

کښي دے شهيد شوے وۀ نو هلته د دۀ د شهادت په ځائے د دۀ يادګاري روضه اباده ده ۔ د تيرات او ګېر چاپېره علاقو د قبضه کولو او په دې جنګ کښې د دۀ د وفات کېدلو په حقله ميجر راورټي داسې ليکي ۔

It appears that the whole of Suwat, as far north as Pia, was conquered in Shaykh Mali's time; but these few villages just referred to,[Chur-rrai (Madyan) and Tirataey], were acquired from the Kafirs (as all people are termed by the Afghans, who are not of the same faith as themselves) about a hundred and fifty years after, in the time of Akhund Karun Dad [Karim Dad], son of Akhund Darwezah. At the capture of Tirataey Karun Dad [Karim Dad] lost his life.[xxxv]

ترجمه: داسې ښکاري چې تر پيا پورې ټول سوات د شيخ ملي په وخت کښې قبضه شوے وۀ ۔ خو دا يو څو کلي لکه چوړړۍ او تيرات يې د کافرو (کوم خلق چې د افغانانو د عقيدې نه علاوه په بله عقيده وي هغوي ته افغانان کافر وائي ) نه يو نيم سل کاله وروستو د اخوند دروېزه د ځوي اخوند کريم داد په زمانه کښې واخستل ۔ د تيرات په قبضه کولو کښې کريم داد خپل ژوند وبائيللو ۔

د کريم داد اصلي روضه په کانجو سوات کښې ده ۔[xxxvi] ميجر راورټي ليکلي دي چې د تيرات خلق دا دعوه کوي چې د ميا کريم داد لاش د دوي سره دے او قبر يې هم په تيرات کښې دے او کله چې دوي ته ووئيلے شو چې د کانجو خلق خو وائي چې د هغه د مرګ نه وروستو هغه خپل کلي کانجو ته اوړے شوے دے او هلته دفن دے ۔ نو د دې په جواب کښې د تيرات خلق وائي چې مونږ د هغوي نه دا لاش راپټ کړے دے او بيا مو دلته په تيرات کښې سپارلے دے ۔ په دې خبرو ميجر راورټي خپله تبصره داسې کوي ۔

All such statements as these are solely for their own interested purposes, in order to enable them to peel off the skin and flesh of poor people, in the shape of offerings at the shrines.[xxxvii]

ترجمه: دا قسمه ټول بيانونه د خپلو ذاتي مقصدونو او فائدو د پاره دي ۔ دا د دې د پاره چې په مزارونو د صدقو او شکرانو په شکل کښې د غريبانانو څرمن اوباسي ۔

چونکي دي په کانجو کښي اوسېدهٔ او روضه يي هم په کانجو کښي ده نو لهٔ دي وجي د کانجو د شهيد بابا په نوم هم ياد شوے دے ۔ اخون ميا داد د دهٔ ذکر داسي کړے دے ۔

د اخون دعا ده تر سوات قلاته دا ننګ اوکړه
اے کانجو کښي کانجو نام د هستۍ غوث اقدره[xxxviii]

د ميا کريم داد شهيد په مرګ حافظ الپورۍ داسي وائي ۔

يو عالم وي بل شهيد شوې
عجيبه در فريد شوې
د کانجو ميا کريم داده
مانيولے لمن ستا ده[xxxix]

د ميا کريم داد ژوند او ادبي خدمات د پښتو ادب په تاريخ کښي ډېر اهميت لري ۔ په پښتو ادب د هغه اثرات ښهٔ ښکارهٔ دي او په پښتو ادب د هغه ډېر احسانات دي ۔ هغه په نظم او نثر دواړو کښي ليکل کړي دي ۔ په بنيادي توګه د هغه شاعرانه تخليقات د تصوف سره تعلق لري خو د ژوند د هرې شعبې سره د تعلق لرونکيو د دلچسپۍ سامان د هغه په ادبي تخليقاتو کښي موندلے شي ۔

نتيجه

کريم داد د خپل دور يو محقق، شاعر او نثر ليکونکے وهٔ ۔ د شاعرۍ موضوعات يي زيات مذهبي رنګ لري ۔ لکه د نورو پښتنو ليکوالانو په شان د دهٔ هم زيات اثار ضائع شوي دي او د کلام څه نموني يي د مخزن الاسلام سره په ضميمو کښي موجودې دي ۔ د کلام يوه نسخه په مينګوره کښي د ده نمسي عبدالرّشيد مرتّب کړې ده ۔ د کريم داد په ژوند او ادبي خدماتو د سندي معيار تحقيق کول پکار دي ۔

حوالي

[i] رحيم، رحيم شاه، د کانجو ميا کريم داد، مشموله، مياشتيزه پښتو، پېښور، پښتو اکيډمي پېښور يونيورسټي، جلد: 10، شماره: 4، (مئي 1978)، مخ: 22
[ii] حبيبي، عبدالحي، پښتانهٔ شعراء (اوله حصه)، پېښور، يونيورسټي بک ايجنسي، مخ: 58
[iii] رحيم، رحيم شاه، غڼه خزانه (ناچاپه)، مخ: 4
iv رحيم، رحيم شاه، د کانجو ميا کريم داد، مشموله، مياشتيزه پښتو، پېښور، پښتو اکيډمي پېښور يونيورسټي، جلد: 10، شماره: 4، (مئي 1978)، مخ: 22
v رحيم، رحيم شاه، غڼه خزانه (ناچاپه)، مخ: 4

[vi] رحیم، رحیم شاه، غتې خزانه (ناچاپه)، مخ: 4، 5
[vii] درویزه،اخون، مخزن سره د مقدّمي د سیّد تقویم الحق کاکا خېل، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، 1987/1969، مخ:165
[viii] هم دغه اثر، مخ: 158
[ix] رحیم، رحیم شاه، غتې خزانه (ناچاپه)، مخ:5
[x] درویزه،اخون، مخزن سره د مقدّمي د سیّد تقویم الحق کاکا خېل، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، 1987/1969، مخ:162
[xi] کاکا خېل، سید محمدتقویم الحق (مقدّمه)، مخزن، مصنّف : اخون درویزه، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، 1987/1969، مخ:عد
[xii] درویزه،اخون، مخزن سره د مقدّمي د سیّد تقویم الحق کاکا خېل، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، 1987/1969، مخ:166
[xiii] رحیم، رحیم شاه، د سوات ورک شاعران (څلورم ټوک)،مشموله، میاشتنی پښتو، پېښور، پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي، جلد: 12، شماره: 7، (اګست 1980)، مخ: 39
[xiv] رحیم، رحیم شاه، غتې خزانه (ناچاپه)، مخ:5
[xv] رحیم، رحیم شاه، د کانجو میا کریم داد، مشموله، میاشتیزه پښتو، پېښور، پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي، جلد: 10، شماره: 4، (مئي 1978)، مخ:23
[xvi] هم دغه اثر، مخ:25
[xvii] رحیم، رحیم شاه، غتې خزانه (ناچاپه)، مخ:6
[xviii] رحیم، رحیم شاه، د سوات ورک شاعران (پینځم ټوک)، مشموله میاشتینی پښتو، پېښور، پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي، جلد:12، شماره: 9 (اکتوبر 1980)، مخ: 44
[xix] رحیم، رحیم شاه، د کانجو میا کریم داد، مشموله، میاشتیزه پښتو، پېښور، پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي، جلد: 10، شماره: 4، (مئي 1978)، مخ:26
[xx] کاکا خېل، سید محمدتقویم الحق (مقدّمه)، مخزن، مصنّف : اخون درویزه، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، 1987/1969، مخ:عب
[xxi] هم دغه اثر، مخ:عج
[xxii] رحیم، رحیم شاه، د کانجو میا کریم داد، مشموله، میاشتیزه پښتو، پېښور، پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي، جلد: 10، شماره: 4، (مئي 1978)، مخ:26
[xxiii] کاکا خېل، سید محمدتقویم الحق (مقدّمه)، مخزن، مصنّف : اخون درویزه، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، 1987/1969، مخ:عب
[xxiv] حبیبي، عبدالحي، پښتانهٔ شعراء (اوله حصه)، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي، مخ: 58
[xxv] رحیم، رحیم شاه، د سوات ورک شاعران (څلورم ټوک)،مشموله، میاشتنی پښتو، پېښور، پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي، جلد: 12، شماره: 7، (اګست 1980)، مخ:40
[xxvi] درویزه،اخون، مخزن سره د مقدّمي د سیّد تقویم الحق کاکا خېل، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، 1987/1969، مخ:194
[xxvii] حبیبي، عبدالحي، پښتانهٔ شعراء (اوله حصه)، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي، مخ: 58
[xxviii] رحیم، رحیم شاه، غتې خزانه (ناچاپه)، مخ:5،6
[xxix] هم دغه اثر، مخ:6

[xxx] رحیم، رحیم شـاه، د سـوات ورک شـاعران (خلورم توک)،مشـموله، میاشـتنی پښـتو، پېښـور، پښـتو اکېډمي پېښـور یونیورستي، جلد: 12، شماره: 7، (اګست 1980)، مخ:39

[xxxi] رحیم، رحیم شاه، د کانجو میا کریم داد، مشموله، میاشتیزه پښتو، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور یونیورستي، جلد: 10، شماره: 4، (مئي 1978)، مخ:25،24

[xxxii] حبیبي، عبدالحي، پښتانهٔ شعراء (اوله حصه)، پېښور، یونیورستي بک ایجنسي، مخ:58

[xxxiii] کاکا خېل، سېد محمدتقویم الحق (مقدّمه)، مخزن، مصنّف : اخون درویزه، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور یونیورستي، 1987/1969، مخ:عب

[xxxiv] رحیم، رحیم شاه، غټه خزانه (ناچاپه)، مخ:6

[xxxv] Raverty, H.G., An Account of Upper and Lower Suwat, and the Kohistan to the source of the Suwat River with an account of the tribes inhabiting those valleys, Journal of the Asiatic Society (Calcutta) Vol. 31 (No. 3, 1862), p.251.

[xxxvi] ستهانوي، سېد عبدالجبّار شاه، کتاب العبرة، اسلام اباد، پورب اکادمي، 2011، ص: 233

[xxxvii] Raverty, H.G., An Account of Upper and Lower Suwat, and the Kohistan to the source of the Suwat River with an account of the tribes inhabiting those valleys, Journal of the Asiatic Society (Calcutta) Vol. 31 (No. 3, 1862), p.251,252

[xxxviii] میاداد، اخون، د اخون میاداد دیوان، ســمونه او څېړنه بدرالحکیم حکیمزے، لاهور، اداره نشــرالمعارف، 2011، مخ:105

[xxxix] دیوان حافظ الپوری سره د شرحې د ابو حسېن چندا خوري، مینګوره، اسلام بک ستور، مخ:31